# په پرائمري سکولونو کښې دې پښتو جاري شي

**میا جعفر شاه کاکاخېل**

دا تقریر میا جعفر شاه کاکاخېل په 28 ستمبر 1937 د پښتونخوا اسمبلۍ ایبټ آباد سېشن کښې کړے دے، د افسوس مقام دے چې څۀ دپاسه اویا کاله پس نن هم هغه صورت حال دے او پښتو ژبه په تعلیمي ادارو کښې د خپل حق نه محرومه ده. 21 فروري د مورنیو ژبو عالمي ورځ ده. په دې موقعه مونږ دغه تقریر په خصوصي توګه د "پښتون" لوستونکو ته وړاندې کوو او د خپلو واکمنو مشرانو نه دا هیله لرو چې دې اهمې مسئلې ته خصوصي پام لرنه وکړي.

د سرحد د اسمبلۍ د ایبټ آباد په سېشن کښې په 28 ستمبر 1937 میا جعفر شاه صاحب کاکاخېل ایم ایل اې دا تجویز پېش کړو چې:

"دا اسمبلي حکومت ته سفارش کوي چې په پرائمري سکولونو کښې دې تعلیمي ژبه پښتو مقرره شي".

میا جعفر شاه صاحب په دې تجویز دا تقریر وکړو:

"صاحب صدر! زما د تجویز مطلب دا دے چې په هغه سکولونو کښې چې پښتانۀ په کښې سبق وائي، د هغوي مورنۍ ژبه پښتو دې ذریعه د تعلیم شي. د هغې بچو چې د چا د مور پلار ژبه پښتو وي، په بله ژبه کښې هغوي ته تعلیم ورکول د هغوي وخت ضائع کول دي.

د دنیا د مهذبو قومونو خو پرېږده، بلکې د افریقې د ځنګلو اوسېدونکي وروستو پاتې شوي قومونه خو هم په خپله مورنۍ ژبه کښې تعلیم حاصلوي. د بدقسمتۍ نه مونږ پښتانۀ په یو داسې ملک کښې پېدا شوي یُو چې هغه غلام دے او د غېر قوم د پنجې لاندې دي نو معلومه خبره ده چې کوم ملکونه د اغیارو د پنجې لاندې وي، د هغوي تهذیب، تمدن او ژبه هم د بل په واک کښې وي او مجبور وي چې د حکمران تهذیب او تمدن اختیار کړي.

زمونږ ژوند څۀ دے؟ مونږ د یو ځائے هم پاتې نۀ شو، مونږ پښتانۀ د ژبې په لحاظ نۀ هندوستانیان شو او نۀ پښتانۀ پاتې شو. مونږ د خپل پلار نیکۀ د تهذیب نه محروم پاتې شو، زمونږ ځوانان نن د حاکم قوم په تقلید مجبور دي، زمونږ



لباس، زمونږ تمدن او نور هر څۀ تباه دي، کۀ څوک لږه انګرېزي ولولي نو هغه به د "بائرن" په اشعارو فخر کوي، لېکن خبر نۀ دي چې خوشحال خان خټک او عبدالرحمان بابا د چا نه کم نۀ دي. زمونږ د ځوانانو طبيعت انګرېزيت ته مائل شۀ، د غېرو اقوامو وضع قطع ئې اختيار کړه، پف، پوډر استعمالول زمونږ د ځوانانو د ښائست معيار شۀ، دا ټوله د غلامۍ وجه ده او د غېر قوم د حکومت مجبورۍ دي.



زما مطلب دا دے چې مونږ د دې قابل شو چې د خپلو اسلافو د کارنامو نه خپل قوم خبر کړو او په خپله ژبه کښې تعليم ورکړو، چې د کړاؤ نه خلاص شي او د ترقۍ په لار روان شي، ولې چې بغېر د خپلې ژبې نه چرې يو قوم ترقي نۀ ده کړې او پردۍ ژبه چې په لس کاله کښې هم زمونږ بچي نۀ شي زده کولے، مګر په خپله ژبه کښې په يو کال کښې د ليکلو لوستلو قابل کېدے شي، زما د کالج يو دوست چې هغه ايم. اې. ايل. ايل. بي. دے، يو عدالت کښې د يو جج په مخکښې په يوه مقدمه کښې وکيل ؤ، هغۀ په پردۍ ژبه کښې د تذکير او تانيث فرق هم نۀ شۀ کولے نو کۀ دا طريقه هم دغه شان جاري پاتې شوه او دا نقائص مونږ خپلو آئنده نسلونو ته پرېښودل نو د دې نتيجه به دا وي چې پښتون قوم به د ټول عمر د پاره جاهل پاتې شي.

صاحبه! موجوده تعليم بې د غاصبانو پېدا کولو نه مونږ ته هېڅ فائده ونۀ رسوله. د هر يو قوم دا پېدائشي حق دے چې هغه دې د خپل تهذيب خاوند وي، د دې تعليم نه څۀ مطلب دے چې "پهاړ معنې غر" او ګدها معنې خر" دا تعليم د څۀ ښې شۀ چې يو ايم. اې. ايل. بي. د اتلس کاله تعليم نه پس بيا هم د اردو په ژبه کښې د تذکير او د تانيث فرق نۀ شي کولے، موجوده طريقۀ تعليم زمونږ د بچو زندګي تباه کړه. پکار دا دي چې مونږ خپلو بچو له په خپله ژبه کښې تعليم ورکړو او ټول قوم ليکونکے او لوستونکے کړو او د خپل قوم عالمانو له د دې خبرې موقعه ورکړو چې تاريخ او جغرافيه او نور د تعليم کتابونه د عوامو د فائدې د پاره په خپله ژبه کښې ترجمه کړي. په دې طريقه به زمونږ قوم ډېر زر لوستونکے او ليکونکے شي. په دې ايوان کښې مونږ ټول يو قوم يُو او زمونږ اولنے فرض دا دے چې خپل قوم د جهالت د تياري نه رڼا ته راوباسو، د دې خبرې احساس مونږ ته ډېر زر پکار دے او چې څومره زر قدم اوچت کړو زمونږ فرض دي.

د هندوستان ټولې صوبې خپلو بچو له د پلار نيکۀ په ژبه کښې تعليم ورکوي، په بنګال کښې بنګالي ده، په مدراس کښې مدراسي ده، په سندهـ کښې سندهي ده او په ګجرات کښې ګجراتي ده، هم دغسې په هره صوبه کښې د صوبې د خلقو په ژبه کښې تعليم ورکېدے شي، نو هيڅ وجه نۀ شي کېدے چې مونږ دې خپلو بچو له په خپله ژبه کښې تعليم ورنۀ کړو.

په دې ايوان کښې زما په تجويز ډېرې نکته چينۍ وشوې او د بعضې خلقو په دماغو کښې د دې بې ضرره تجويز متعلق ډېرې غلط فهمۍ پېدا کړې شوې، لېکن زۀ د ټولو په خدمت کښې دا عرض کوم چې دا تجويز د هيچا خلاف نۀ دے او نۀ زما په خيال کښې چا ته نقصان رسول زما غرض دے، دا د يوې تلخې تجربې نتيجه ده او زما مطلب محض د خپل قوم ترقي ده، زما پوره يقين دے چې بې خبره وزير قوم چې نن سبا ورته دنيا په ډېر نفرت ګوري او وحشيان ئې شماري، به هم بالکل سم شي کۀ چرې هغوي له سم تعليم ورکړے شي، زۀ درخواست کوم چې ما چې دا کوم "بې خبره" لفظ استعمال کړے دے، د دې نه زما څۀ خوشامنده مطلب نۀ دے، مونږ ټول پښتانۀ بې خبره يُو، ماته ياد دي چې مولانا حالي صاحب مرحوم چې يو ځل د عليګړهـ هلکانو ته تقرير کولو نو په کښې ئې ووې چې د سرحد پښتانۀ بې خبره دي، يو پښتون هلک پاڅېدو او په غصه کښې ئې ووې چې مقرر په خپله بې خبره دے. حال دا دے چې د حالي صاحب مطلب دا ؤ چې د سرحد مسلمانان په تعليمي لحاظ سره وروستو دي. د دې دپاره هغوي د بې خبره لفظ صرف د پښتنو سره د همدردۍ په وجه استعمال کړے ؤ لېکن پښتون د هغې هېڅ قدر ونۀ کړو.



اصلي خبره دا ده چې ډېر خلق زمونږ بې تعليمه او بې خبره دي او هغه خلق چې کوم په غېره علاقه کښې اوسي ډېر زيات بې علمه دي او هر کله چې دا خلق تعليم حاصل کړي نو د رعيت ځنې خلق چې د دوي د لاسه تنګ دي او څۀ تکليف بيا مومي هغوي به هم په آرام شي.

زۀ دا عرض کوم چې زما دا تجويز د چا د مذهب او جماعت په کارونو کښې د دخل ورکولو نۀ دے لکه څنګه چې د دې د خپلو الفاظو نه هم معلومېږي.

پس زۀ د دې معزز ايوان نور وخت اخستل نۀ غواړم او په آخر کښې اپيل کوم چې زما په دې تجويز دې د بني نوع انسان په نقطۀ نګاه سره بحث وکړے شي.

پښتون اول مۍ 1938